## دشیرمحمد (ستانکزي) لنډ ژوند لیک:

شیرمحمد «ستانکزی» دالحاج محمدامین«ستانکزی» ځوی په ۱۳۶۴ هجری لمریزکال دلوګرولایت مرکزاړوند دحصارک کلې دحاجي بهرام خان کلا، په یوه متدینه اودینداره کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولي دي. شیرمحمد«ستانکزی» لومړنۍ او منځنۍ زده کړې



دحصارک په منځني ښوونځي کې او په کال ۱۳۸۳ هجری لمریزدحضرت عمرفاروق له عالي لیسې څخه فارغ شویدی. په همدې کال دکانکور آزموینې داخیستو او دپایلوداعلان وروسته دکابل دښوونې او روزنې دژبواو ادبیاتو پوهنځی ته لاره پیدا او دځلورکلو زده کړو تراخیستو دپښتو څانګې څخه په ۱۳۸۷ هجری لمریز کې دلسانس په کچه فارغ شویدی. شیرمحمد« ستانکزی» دفراغت سره جوخت دلوګرولایت دپوهنې ریاست دځارنې او ارزونې په مدیریت کې دڅارونکې په توګه وګمارل شو او دیوکال دندې وروسته دښوونکو د روزنې دظرفیت لوړولو په ښوونیزه موسسه (COAR) کې دماسټرټرینرپه توګه خپله دنده پیل کړه، چې د لومړۍ ټولګي څخه تردولسم ټولګي؛ ښوونکوته د میتودیک او اکادمیک سمینارونو روزنه ورکوله ، دغه دنده یې دونیم کاله په سمه او ریښتنولي سره پرمخ یوړه، چې ۳۵۰ تنه ښوونکي دمیتودیک او ۳۰۰ تنه استادان یې داکادمیک له روزنې څخه برخمن او دنوی اوعصري زده کړو په چوکاټ کې شامل کړي دي. په ۱۳۹۰ هجری لمریز کال کې دملي پیوستون دټولنې کارکوونکې (Social organizer) په صفت دنده پیل کړه، چې په لوګرولایت مرکزپل علم کلیو کې دپراخیتایي شوراګانو جوړول، په دغو سیموکې دپروژو لست برابرول او دپروژو دتطبیقولو فرفوزل جوړول، چې کابو د۳۰ کلیو شوراګانې جوړې او دسړک، پلچک، دشورا دځای ناستې صالون، او استنادي دیوالونو دجوړیدو پروژې یې تطبیق کړیدي. شیرمحمد «ستانکزی» چې دلیکوالي اوخبریالي سره مینه درلود په ۱۳۹۱ هجری لمریزکې دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست دجریدې لوی مدیر په توګه دآزادې سیالۍ له لارې وګمارل شو، چې دلوګرپه نوم پنځلس ورځنۍ خپرونې چلوونکی اوتردامهاله پرمخ وړي. سره له دې شیرمحمد«ستانکزی» دخپل مېنې اوسیمې دخدمت دترسره کولو په موخه دلوګر، حقیقت، افغان ځواک خبري سایټونواو دهیوادملي ورځپاڼې خبریال پاتې شویدی. شیرمحمد« ستانکزی» دخبریالي ترڅنګ تکړه اوپوخ لیکوال هم دی، چې دهغه لیکنې، مقالې او مطلبونه دلوګراونیزې، دهیواد ورځپاڼې او په افغان ځواک، حقیقت، لوګراو نورو سایټوونو کې خپاره شویدي.  شیرمحمد دهیواد په ملي او رسمي ژبوپښتو او دری لیکنې اوخبرې کوي. موږ شیرمحمد«ستانکزي» ته دنوروبریاووهیله او غوښتنه کوو، خدای د ژوندی او عمریې زیات لري .

سلیم عابد پیمان